نجیب منلی ۲۰۱۸/۱۱/۳۰

# د افغانستان اوبه او د پاکستان زهر

دوهمه برخه

## ۳ - د کابل د اوبو حوزه او له پاکستان سره اړیکي

د کابل د اوبو حوزه د افغانستان د اوبو یوازینی سیستم دی چي له اباسین سره تر یو ځای کېدو وروسته سمندر ته رسېږي. د کابل د اوبو حوزه درې – یوه له بلي بېلي – څانګي لري:

### - د ګومل سیند:

د څو کوچنیو خوړونو مجموعه ده چي نیږدې ۹۰۰۰ مربع کیلومتر ساحه یې پوښلي ده. د پکتیکا ولایت له سرروضي څخه پیلېږي او دېره اسمعیل خان کي له اباسین سره یو ځای کېږي. د ګومل پر سیند په قبایلي سیمه (ټانک) کي یو کوچنی بند رغېدلی چي شاوخوا یو نیم مکعب کیلومتر اوبه زېرمه کوي، اوه لس میګا واټه برېښنا تولیدوي او شپږ سوه مربع کیلومتره ځمکه خړوبوي. د ګومل سیند تر پوښښ لاندې کرنیزې ځمکي خورا محدودې دي. د ګومل اوبه په عنعنوي توګه کارول کېږي خو د سیمي جغرافیه داسي ده چي د اوبو د کنټرول تاسیسات که جوړېږي هم اغیز به یې یوازې د پکتیکا ولایت پر دوو یا دریو ولسوالیو محدود وي.

### - د شمل سیند:

د شمل سیند شاوخوا لس زره مربع کیلومتره ساحه پوښلي ده. شمل د خوړونو یوه کوچنی شبکه ده چي د کرنې په برخه کي تري استفاده کېږي. د سین عمومي بهیر تر ډېره حده د ځایي خوړونو او تویونو تابع دی.
په دوه مانده ولسوالی کي د بند پروژه به د تنیو، ګوربزو او مندوزیو للمي ځمکي خړوبې کړي خو دا بند به د شمل سیند په ښکتنی برخه کي د اوبو پر رژیم فوق العاده اغیز و نه ښندي.

## - د کابل د سیند اصلي حوزه

د کابل د سیند د اوبو اصلي حوزه شاوخوا ۶۰۰۰۰ مربع کیلومتره ده. د کابل سیند له کابل ښاره شاوخوا سل کیلومتره لیرې د اونی له غاښي سرچینه اخلي، د لوګر سیند، د پنجشیر سیند، د لغمان سیندونه (الیشنګ او الینګار) او د کونړ سیند یې عمده مرستیالان دي. د کابل سیند د اوبو حوزه تقریباً د افغانستان پر ۹ سلنه ځمکه پرته ده او د هېواد شاوخوا څلورېښت په سلو کې نفوس په کې راټول دي (د نفوسو تراکم په دې حوزه کې په هر کیلومتر مربع کې تر ۹۳ پورته دی)

## د کابل د سیند مسیر پر دریو مهمو برخو وېشل کېدای شي:

الف: برنۍ برخه چې له پغمانه تر پل چرخي پورې د کابل د استوګني ساحه په کې شامله ده. د دې فرعي حوزې تقریباً ټولې اوبه (دمیدان، پغمان، قرغي او لوګر اوبه) ځاي پر ځای – یوه برخه د سیمه ییزې کرنې له پاره او یوه برخه د کابل د ښار او شاوخوا سیمو د څښاک له پاره - مصرفېږي، یوازې د موسمي اورښتونو پر مهال یو مقدار اوبه ښکته ځي.

په دې ساحه کې د اوبو د مدیریت هر ډول تاسیسات چې را منځ ته کېږي د سیند په ښکتنیو برخو باندې منفي اغیز نه شي درلودای. د شاه توت بند په همدغه ډول تاسیساتو کې راځي.

بر عکس که په دې ساحه کې لازم تاسیسات جوړ شي نو کولای شي چې د اوبو د بهیر د موسمي تغییراتو په کنټرول او د سیلاوونو د تخریباتو په مخنیوي کې مرسته وکړي.

په چارآسیا کې د شاه توت بند له همدغو تاسیساتو څخه یو دی چې له پل چرخي ښکته د اوبو پر مجموعي مقدار خاصه اغیزه نه شي درلودای.

همدا راز د شمالي په دښد کې د پروان کانال یو مقدار اوبه د پنجشیر له اصلي بهیر څخه راګرزوي. امکان لري چې د دغو اوبو یوه برخه په راتلونکي کې د کابل تر ښاره راورسېږي او د ښار دننه د کابل سیند تغذیه کړي.

په شکردره کې د شاه و عروس بند هم د کرنې او هم د کابل د څښاک د اوبو د تأمین په موخه شاوخوا یو سل او اتیا زره مکعب متره اوبه زېرمه کوي.

د سیند دبهیر په دې برخه کې د انرژۍ د تولید مهم بنسټ د ماهیپر د برېښنا بند دی چې ټولې اوبه یې د برېښنا له تولید وروسته د سیند اصلي بهیر ته لوېږي.

ب: منځنۍ برخه چې د کابل او ډرونټې تر منځه پرته ده. په نغلو کې د پنجشیر سیند او له ډرونټې سره د لغمان سیندونه د کابل له سیند له اصلي بهیر سره یو ځای کېږي. د نغلو د برېښنا بند، د سروبي د برېښنا بند او د ډرونټې د برېښنا بند هغه عمده تاسیسات دي چې د سیند پر دې برخه رغېدلي دي. په سروبي کې د یو بل برېښناکوټ رغول هم د دولت په کاري پلانونو کې شامل دي. دلته له اوبو څخه یوازې د انرژي د تولید په موخه کار اخیستل کېدای شي ځکه چې د وربشمین تنګي په اوږدو کې د کرنې وړ ځمکې نه شته. که له وربشمین تنګي وروسته د لغمان د کڅونو د خړوبولو له پاره تاسیسات ایجاد هم شي، د سیند د اوبو پر عمومي رژیم د پام وړ اثر نه شي ښندلای.

د پنجشیر د سیند فرعي حوزه پر ۱۳۰۰۰ مربع کیلومترو پرته ده. د دې حوزې د کرنیزو ځمکو مجموعه تر ۱۳۰۰ مربع کیلومترو کمه ده چې شاوخوا نهه سوه مربع کیلومتره یې له پخوا راهیسي خړوبېږي. که د پنجشیر او غوربند پر سین د اوبو د مدیریت تاسیسات جوړ شي نو په نغلو کې د دغه سیند پر جریان ډېر کم اغیز ښندلای شي.

ج – د کابل سیند ښکتنی برخه: د پنجشیر او لغمان اوبه تقریباً ټولې د ډرونټې تر بنده رسېږي. په ډرونټه کې د ننګرهار کانال یو مقدار اوبه د سیند له اصلي بهیر څخه اړوي. له جلال اباد سره د کونړ سیند هم د کابل له سیند سره یو ځای کېږي.
د کونړ د سیند فرعي حوزه ۱۱۶۰۰ کیلومتره مربع ده. له دې جملې یوازې نهه سوه مربع کیلومتره ځمکه تر کرنې لاندې راتلای شي. د کونړ د سیند تر ټولو لوړ اقتصادي ارزښت د برېښنا په تولید کې دی چې تر ۲۲۰۰ میګاواټو زیات ظرفیت لري
د کونړ پر سیند د اوبو د زېرمه کولو تاسیسات به د کابل سیند په ښکتنی برخه (پښتونخوا) کې د سېلاوونو په مدیریت کې خورا ګټور ثابت شي.

## له پاکستان سره د اوبو وېش

د پاکستان او افغانستان په دوه اړخیزو اړیکو کې تر اوسه د اوبو پر موضوع رسمي خبرې اترې نه دي شوې. د ۲۰۱۳ کال په اګست کې د افغانستان د مالیې وزیر ډاکټر حضرت عمر زاخېلوال او د پاکستان د مالیې وزیر ښاغلي محمد اسحق ډار د کونړ پر سیند د برېښنا د یو سترې پروژې د ګډ کار خبره وکړه چې تر هغې وروسته نه افغانستان او نه پاکستان دا موضوع تعقیب کړې ده.
که د کابل د اوبو د حوزې طبیعي جوړښت ته وګورو، پاکستان له افغانستان سره نه اوس د اوبو پر سر کومه ستونزه لري او نه یې په راتلونکې کې پیدا کولای شي. که افغانستان د کابل سیند د اوبو له حوزې څخه اعظمي استفاده هم وکړي له ډیورنډ کرښې د اووښتونکو اوبو په مقدار کې د پام وړ توپیر نه شي راتلای.
بالمقابل، که چېرې افغانستان او پاکستان د خپلو ګډو اقتصادي منافعو له پاره د کرښې دواړو لوریو ته د اوبو او ځنګلونو پر مدیریت په ګډه کار وکړي، د شتو امکاناتو په کارولو کې سره همکاري وکړي نو ګټه به یې د کرښې د دواړو غاړو ولسونو ته ورسېږي.
د پاکستان او افغانستان تر منځ د اوبو مدیریت کېدای شي د نړیوالو همکاریو یو فوق العاده اغیزمن موډل هم واوسي. د کابل د اوبو پر حوزه که د انرژۍ د تولید تاسیسات رغېږي نو دواړه هېوادونه ترې ګټه اخیستلای شي. سر بېره پر دې، که د کابل د اوبو په برنی برخه کې د طبیعي آفاتو، د چاپېریال د ککړتیا او د ژواک د چاپېریال د تخریب مخه نیول کېږي نو هماغومره یې د دې حوزې د ښکتنی برخې اوسېدونکې هم له ښو نتایجو برخه من کېږي.
دا به د دواړو هېوادونو د ولسونو په ګټه وي چې – له نورو اختلافاتو سره سره – دواړه دولتونه سره د اوبو او د ژواک د چاپېریال په سالم مدیریت کې همکاري وکړي.

## سیاسي لوبې او زهرپاشنې

افغان سیاستوال عموماً د کونړ پر سیند او په مجموع کې د کابل د اوبو د حوزې د مدیریت په برخه کې خپله ناغېړي د پاکستان د لاسوهنې په پلمه توجیه کوي. پاکستاني سیاستوال هم هڅه کوي چې په افغانستان کې د خپلو ناوړه

سیاستونو د توجیه له پاره له کرښې اخوا ولسونو او عامه افکارو ته د پاکستان پر طبیعي سرچینو د هند د برلاسي کېدو ډار تلقین کړي.
پاکستاني مطبوعات، سیاسیون او استخباراتي کړی د پاکستان سیاسي، اقتصادي او امنیتي مشکلاتو کې د افغانستان پر نقش ځکه ډېر ټینګار کوي چې د پاکستان سیاسي بقا په بهرني ګواښ کې ویني. د پاکستان د ایجاد له وخته تر دې دمه، د پاکستان دولت هڅه کړې چې په خپل ګاونډ کې بې ثباتي رامنځ ته کړي، له ګاونډیو هېوادونو او ولسونو سره، په یو ډول نه یو ډول، د تخاصم فضا ګرمه وساتي چې په کور دننه د بېلابېلو قومونو د حق غوښتنې تمایلات کنټرول کړي. له همدې امله، سره له دې چې د پاکستان دولت عملاً د اوبو د مسئلې پر سر د خبرو اړتیا هېڅکله نه ده احساس کړې په غیر مستقیم ډول پر خپلو طبیعي زېرمو او سرچینو د افغانستان برلاسی د خپل داخلي امنیت له پاره ګواښ ګڼي.
دا چې پاکستاني مطبوعات او د هغوی تر شا فعال استخباراتي لاسونه د کورنیو عامه افکارو د بوخت ساتلو په موخه په افغانستان کې هر اقتصادي پرمختګ او د هرې زېربنایي پروژې پلي کېدل د پاکستان پر سیمه ییز امنیت د هند د نادوستانه برید په توګه معرفي کوي د پاکستان د اویا کلن تاریخ یوه ثابته مشخصه ده.
د دې تبلیغاتو د ناریښتینوالي د ثابتولو له پاره دغه یوه ټکي ته اشاره کافي ده چې پاکستان له ټولو دښمنیو سره سره دې ته حاضر دی چې په کشمیر کې له هند سره د اوبو د وېش له پاره دوه اړخیزه همکاري وکړي خو په افغانستان کې یوه خورا کوچنۍ پروژه د شکونو په یو پراخ جال کې پوښي.
له بده مرغه په افغانستان کې د عامه افکارو جوړوونکي کړی (کورني مطبوعات او په کورنیو مطبوعاتو کې فعال کارپوهان) د هېواد دننه واقعیتونو په اړه کره، مستند مالومات نه لري، یا یې د لاس ته راوړلو هڅه نه کوي، نو تر ډېره بریده پر بهرنیو سرچینو تکیه کوي. د افغانستان او پاکستان تر منځ د اړیکو په ارتباط، بهرنۍ سرچینې هم د افغاني واقعیتونو په پرتله د استخباراتي کړیو – او په خاص ډول د پاکستاني استخباراتو - له خوا د خپرېدونکو مالوماتو اخیستلو ته ډېر تمایل لري.
هغه زهر چې پاکستاني استخباراتي حلقات یې د خپلو لنډمهالو تاکتیکي ګټو له پاره د پاکستاني او نړۍ والو مطبوعاتو له لارې خپروي او هڅه کوي د افغانستان او هند پر همکاریو د شک څادر وغوړوي، په اوږده مهال کې د کرښې د دواړوو خواوو د ولسونو په تاوان دي.
بیا هم پاکستاني استخباراتي کړی کېدای شي د یوې تاکتیکي حربې د درلودلو په خاطر دغه زهر پاشنې په خپله ګټه وبولي خو په افغانستان کې مطبوعاتي فعالین د مالوماتو د نشتوالي له امله په غیر شعوري ډول د همدغو زهرو د بیا خپرولو له لارې د خپل هېواد منافعو ته ضرر رسوي.
د رواني جګړې یو محوري ټکی هم همدا دی چې په خلکو کې داسې ذهنیت ایجاد شي چې مثبتو او رغوونکو اقداماتو ته هم د شک په سترګه وګوري. اوبه، د یوې حیاتي طبیعي شتمنۍ په صفت، د هر چا له پاره مهمه او حساسه موضوع ده. که له کرښې اخوا وګړو ته دا احساس ورکړ شي چې په افغانستان کې د اوبو د مدیریت هر بری د هند او پاکستان په مقابله کې د هند په ګټه تمامېږي نو هغه خلک که له افغانستان سره خواخوږي هم ولري د هند سره د دښمنۍ په خاطر د افغانستان د مشروعو منافعو قربانول ورته ستونزمن نه برېښي.

په کور دننه هم، که د افغانستان وګړو ته دا شک پیدا شي چې د افغانستان د اوبو مدیریت د پاکستان له پاره ګواښ بلل کېدای شي نو د ځوابي اقداماتو له وېرې ممکن د دغه ډول رغنیزو پروژو ناکامېدل ورته یوه لازمه قرباني بشکاره شي.

د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې د اوبو د مسئلې ابعاد او په دې اړه د وضاحتونو ایجادول د پاکستان له خوا په افغانستان کې د پلان شوې رواني جګړې سره د مقابلې یوه ارزښتمنه وسیله ده.

افغاني مطبوعاتو ته په کار ده چې د ځمکنیو واقعیتونو د دقیقې څېړنې له لارې د هېواد د دښمنانو په لاس له خپلې خوښې پرته د افغانستان د منافعو پر ضد ونه کارول شي.

پایان

## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند بخش نخست این مطلب و نبشته ها و مضامین دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، میتوانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحۀ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!